احسان‌الله اړینزی
۲۰۲۳/۰۹/۱۸

# نړیوالې ټولنې

## ۸۳ برخه

سیمه ییزه ټولنې
اروپا
**پنځم څپرکی**
**سیمه ییزه ټولنې**

**امریکایي ټولنې**

**۲ - د منځنۍ امریکا د هېوادونو ټولنهOrganization of Central American States(ODECA)**
د منځنۍ امریکا ټولنې هېوادونه (کوستاریکا، ګواتیمالا، نیکاراګوا، هاندوراس او السلوادور) تر کال ۱۸۲۱ پورې، د اسپانیا تر لاس لاندې او ټول د (ګواتیمالا امارات) په نامه یادېدل؛ خو په کال ۱۸۲۳ کې، د متحدو منځنیو ولایاتو په نامه، په یوه فدرال هېواد کې سره یو ځای شول.
په کال ۱۸۳۸ کې دا هېوادونه په داسې حال کې خپلواکه شول چې د یووالي هڅې روانې وې. په کال ۱۹۰۷ کې د واشنګټن تړون لاسلیک شو چې د همدې پنځو هېوادونو د کنفدراسیون د جوړېدو خبره په کې شوې وه؛ خو تړون په لسو کلونو کې مات او د کنفدراسیون خبره پاته شوه.
په کال ۱۹۵۱ کې د منځنۍ امریکا پنځو هېوادونو، د سن سلوادور (السلوادور) کړنلاره لاسلیک کړه چې د یووالي د ټینګښت له پاره اغېزمن ګام بلل کېده. په کال ۱۹۶۲ کې د سن سلوادور دوهم تړون لاسلیک شو، چې د منځنۍ امریکا هېوادونو د اوسنۍ ټولنې بنسټ بلل کېږي.[1]
جوړښت: سرمشریزه، د بهرنیو چارو او دارالانشا وزیرانو شورى، اقتصادي شورى، مرکزي دفتر او دارالانشا.
- سرمشریزه: سرمشریزه د دې ټوانې تر ټولو لوړ اداره کوونکی ارګان دی، چې د غړو هیوادونو مشران یکی برخه اخلي او په کال کې، یو ځل غونډه کوی.
د بهرنیو چارو وزیرانو شورى: د منځنۍ امریکا هېوادونو د ټولنې واکمن ارګان چې په کال کې یو ځل غونډه کوي او پرېکړې یې د رایو په اتفاق وي.
اقتصادي شورى په کال ۱۹۵۸ کې، په هاندوراس کې، د منځنۍ امریکا د ګډ بازار بنسټ کېښود چې تړون یې هاندوراس، نیکاراګوا، السلوادور او ګواتیمالا لاسلیک کړ. کوستاریکا هم په کال ۱۹۶۲ کې، له دې تړون سره یو ځای شوه. دا تړون غواړي چې د غړو هېوادونو تر منځ د ملي اقتصاد د یووالي، د یو لوی اقتصادي بازار د جوړولو، د تولید د ودې، د سوداګریزه راکړې ورکړې او د خلکو د ژوندانه د سطحې د لوړولو له پاره کار وکړي.
په کال ۱۹۶۹ کې د هاندوراس او السلوادور جګړې، د منځنۍ امریکا ګډ بازار چې خورا بریالی په مخ روان و، له ماتې سره مخامخ شو.
دلته دا خبره د یادونې ده چې له کال ۱۹۷۲ څخه وروسته، د منځنۍ امریکا هېوادونو ټولنې د هېوادونو تر منځ د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا له پاره، ډېرې هڅې وکړې چې په پایله کې، د (منځنۍ امریکا اقتصادي او ټولنیزې شورى) جوړه شوه.[2]
**۳ - د لاتینې امریکا د اقتصادی پیوستون ټولنهLatin American Integration Association( ALADI)**
په کال ۱۹۶۰ کی د ملګرو ملتونو د اقتصادي کمیسیون په هڅونه، او د یوروګوای د کړنلارې له مخې، د لاتینې امریکا د ازادې سوداګرۍ ټولنه Latin American Free Trade Association(LAFTA) جوړه شوه چې د لاتینې امریکا یا جنوبي امریکا اووه هیوادونه (یوروګوای، برازیل، ارجنتاین، پیرو، چیلي، مکسیکو، کولمبیا یې غړی شول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

LAFTA غوښتل چي د سوداګرۍ يوه آزاده سيمه جوړه او د دولتونو تر منځ، د متقابله همکاريو ستونزې له منځه ويسي. لکه په کال ۱۹۶۶ کې په اوبو کې د تګ راتګ یا وړلو – راوړلو هوکړه او داسي نور.
د LAFTA په تړون کې راغلي و چي غړي هېوادونه به، په ۱۲ کلونو کې د مالونو د صادراتو - وارداتو کمي Quantity محدوديت او ګمرکي تعرفي له منځه ويسي. له نورو هېوادونو سره د اړيکو مقررات جوړ يې کړل او د نورو امريکايي هېوادونو د غړيتوب له پاره يې اسانتياوې په پام کي ونيولي. له همدې امله اکوادور په ۱۹۶۲، بوليويا په ۱۹۶۷ او وينزويلا په ۱۹۶۶ کې د ټولني غړي شول. تړون همدارز د غړو هېوادونو د اقتصادي جوړښتونو توپيرونه، په پام کې ونيول او پرېکړه شوه که چيرې کوم هېواد د تادياتو د بيلانس د کسر په شان، له اقتصادي ستونزو سره مخامخ کېږي، کولای شي چي د آزادې سوداګرۍ مقررات د لنډې مودې له پاره وځنډوي.[3]
په کال ۱۹۶۹ کې د LAFTA غړو هېوادونو، د کاراکاس په غونډه کې په (يوروګوای تړون) کې ځيني اصلاحات منظور کړل؛ خو د غړو هېوادونو تر منځ د يو لړ ستونزو له امله، د ازادې سوداګرۍ سيمه جوړه نه شوه. له دې ستونزو وروسته همدې هېوادونو په کال ۱۹۸۰ کې لاندې درې کوچنی ټولني:

- د وروسته پاتي هېوادونو ټولنه (اکوادور او پاراګوای)،
- د منځنی کچې پرمختللي هېوادونه (کولمبيا، چيلي، پيرو او يوروګوای)،
- پرمختللي هېوادونه (ارجنتاين، مکسيکو او برازيل).

سره يو ځای کړې او د اګست په مياشت کې ارجنتاين، اکوادور، يوروګوای، برازيل، بوليويا، پيرو، پاراګوای، چيلي، کولمبيا، مکسيکو، نيکاراګوا او ونزويلا د ALADI د جوړيدو تړون لاسليک او د لاتيني امريکا د آزادې سوداګرۍ ټولنه يا LAFTA له منځه لاړه. نوی ټولنی هيله درلوده چي چي په غړو هېوادونو کې، دوه اړخيزه او څو اړخيزه ګمرکي معافيتونه پياوړي کړي.
په کال ۱۹۸۱ کي ALADI اجرايي شو. د دې ټولني هدف دا دی چي د لاتيني امريکا د هېوادونو تر منځ ګډ اقتصادي بازار رامنځ ته کړي، ګمرکي تعرفي حداقل ته ورسوي او يو د بل په وړاندې نرم اقتصادي سياستونه په پام کې ونيول شي. کيوبا په ۱۹۹۹ کی له دی تړون سره يو ځای شوه.[4]

### ۴- اندين ډله Andin Group:

اندين ډله يو سيمه ييز تړون دی چي د لاتيني امريکا د آزادې سوداګرئ ټولني په چوکاټ کې، په کال ۱۹۶۹ کې د بوليويا، چيلي، اکوادور، کولمبيا او پيرو تر منځ لاسليک شو.
وينزويلا په ۱۹۷۳ او پانامه په ۱۹۷۹ کي له دې تړون سره يو ځای شول؛ خو چيلي د ګمرکي مالياتو د معافيت او د پانګوني له ځينو مقرراتو سره د مخالفت له امله، په ۱۹۷۶ کې له تړون څخه ووته.
هغه وخت چي بوليويا، کولمبيا، اکوادور، پيرو او ونزويلا په کال ۱۹۹۷ کې د تروجيلو تړون لاسليک کړ، دا ډله د اندين اقوامو د ټولني يا Indian Tribles Union په نامه ونومول شوه.
اهداف:

- په سيمه کې د ګډ بازار جوړېدل،
- د اقتصادي يووالي په سيوري کې، د غړو دولتونو د يووالي له پاره د آسانتياوو برابرول.

د اندين ډلي د کال ۱۹۹۳ په غونډه کې، پرېکړه شوه چي ګډ بازار به د السلوادور، پانامه، نيکاراګوا، ونزويلا، مکسيکو، هاندوراس، ګواتيمالا، کوستاريکا او کولمبيا تر منځ سوداګريزه راکړه ورکړه آسانه کړي.
جوړښت: کمېسيون چي د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړ دی او د اندين ډلي تر ټولو ځواکمن اداره کوونکی ارګان بلل کېږي.
اداري شورى: له درې غړو څخه جوړه شوې چي د دارالانشا دندې هم په غاړه لري. اداري شورى د دې ډلې ټول وړانديزونه کمېسيون ته لېږي او د کمېسيون پرېکړې عملي کوي.
د دې ډلي هېوادونه په خپلو کې، سوداګريز محدوديتونه يا په متقابله توګه او يا له ګمرکي تعرفو څخه د معافيت په بنه، له منځه وړي او د دربيمګړو هېوادونو په وړاندې د مالياتي، اسعاري، مالي او پراختيايي چارو په وخت کې، همغږي سياستونه غوره کوي.[5]

---

[1] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ۲۳۱
[2] نړيوال سازمانونه، محمد نظيم سمون، ص ۲۳۲
[3] سازمانهای بين المللی، داکتر محمد غفوری، ص ۲۳۵-۲۳۴
[4] سازمانهای بين المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۲۳۵
[5] سازمانهای بين المللی، داکتر محمد غفوری، ، ص ۳۳۵


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ